اهل کتاب مه ریښتیني ګڼئ او مه دروغجن، بلکې ووایئ: {آمَنَّا بِاللهِ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْنَا

له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی هغه ویلي: اهل کتابو به تورات په عبراني ژبه لوسته، او په عربي ژبه به یې مسلمانانو ته تفسیراوه، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «اهل کتاب مه ریښتیني ګڼئ او مه دروغجن، بلکې ووایئ: {آمَنَّا بِاللهِ وَمَا أُنْزِلَ إِلَيْنَا} [البقرة: 136] الْآيَةَ».{مونږ ایمان راوړی پر الله او پر هغه څه چې مونږ ته نازل شوي دي}

[صحيح دی] [بخاري روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل امت ته په هغه څه له دوکه کېدلو څخه خبرداری ورکړ چې اهل کتاب یې له خپلو کتابونو څخه روایتوي. ځکه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وخت کې یهودانو تورات په عبراني ژبه لوسته؛ کومه چې د یهودو ژبه ده او په عربي به یې تشریح کاوه، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: اهل کتاب مه ریښتیني ګڼئ او مه دروغجن، دا - حکم - په هغه څه کې دی چې رښتیا او دروغ یې ښکاره نه وي؛ دا ځکه چې الله تعالی مونږ ته امر کړی چې په هغه څه ایمان راوړو چې مونږ ته له قرآن څخه نازل شوي دي، او په هغه څه چې دوی ته د کتاب - تورات او انجیل - له لارې نازل شوي دي، مګر دا چې که مونږ وغواړو د هغوی په کتابونو کې د صحیحو او یا غلطو روایتونو په اړه پوه شو بله لار نه لرو پرته لدې چې زمونږ شریعت یې مونږ ته د سمووالي او یا ناسمووالي په اړه څرګندونه وکړي، نو مونږ ودریږو (توقف کوو)، په دوی باور نه کوو؛ ځکه هسې نه چې مونږ له هغوی سره په هغه څه کې شریک شو چې دوی تحریف کړي دي، او مونږ دوی دروغجن هم نه ګڼو، شاید خبره یې رښتیا وي، ځکه کېدی شي - په دروغ ګڼلو سره - مونږ له هغه څه څخه انکار وکړو چې مونږ ته پرې د ایمان راوړلو امر شوی دی، او رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته امر وکړ چې ووایو: {آمنا بالله وما أنزل إلينا وما أنزل إلى إبراهيم وإسماعيل وإسحاق ويعقوب والأسباط وما أوتي موسى وعيسى وما أوتي النبيون من ربهم لا نفرق بين أحد منهم ونحن له مسلمون} (مونږ په الله تعالی ایمان راوړی دی او په هغه څه چې مونږ ته نازل کړی شوي دي، او په هغه څه چې ابراهیم او اسماعیل او اسحاق او یعقوب او د هغوی اولادې ته نازل کړی شوي دي، (او مونږ ایمان راوړی دی) په هغه څه چې موسی او عیسی ته ورکړی شوي دي، او په هغه څه چې د خپل رب له جانبه (نورو) پیغمبرانو ته ورکړای شوي دي، مونږ په دوی کې د هیڅ یو په منځ کې فرق نه کوو، او مونږ خاص د هغه الله تعالی حکم منونکي یو). [البقرة: 136].

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65046